2 017550 139621

# مسیر

ورځپانه

www.maseerdaily.af

نوی لید، نوی مزل

سه شنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د جون ۸مه | ۷۲۹مه گڼه

## خپره

۴ مخ



### پاتریک مودیانو

مودیانو د مارشل پروست په څېر د انساني ژوند بنسټیزو مسایلو ته اشاره کړې ده، د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره يې نظريات وړاندې کړي دي، د تېرې زماني د برم او انساني عظمت د ژوندي کولو لپاره هڅه کوي او له همدې کبله يې د نوبل جايزه هم گټلې ده.

## کرنې ریاست: د هرات د ځمکني توتانو سرني حاصلات به۱۵۰متریک ټنو ته ورسيږي



د هرات د کرنې رياست چارواکي وايي چې په دغه ولايت کې به د ځمکني توتانو سږني حاصلات۱۵۰ متريک ټنو ته ورسيږي. د دغه ولايت د کرنې او مالدارۍ سرپرست بشير احمد احمدي وايي چې سږ کال په ياد ولايت کې په سل جريبه ځمکه کې ځمکني توتان کرل شوي او ښه حاصلات يې ورکړي دي.

نوموړی زياتوي، چې تېر کال په هرات کې د ځمکني توتانو حاصلات ۱۴۰ متريک ټنو ته رسېدل. د يادونې ده چې هرات د مناسبې هوا له امله د هېواد په کچه د ځمکني توتانو تر ټولو لوی فارمونه لري. د چارواکو په خبره، د هرات ځمکني توتان نيمروز، غزني، فراه، کندهار او بادغيس ولايتونو ته هم استول کېږي.

د يادونې ده چې افغانستان د ځمکنيو توتانو کرکيلي لپاره مناسبه هوا او اوبه لري چې سږ کال د هېواد په ځينو برخو په ځانگړې توگه، کندهار او ننگرهار کې يې کرکيله پراخه شوې ده.

# په پاکستان کې امریکایي اډې او افغان جگړه؛

## نیویارک ټایمز: پاکستان په مشروط ډول امریکا ته پوځي اډې ورکوي



۳

### د ولسواليو د سقوط تر شا څه دي؟

۲ مخ

### روشن مخابراتي شرکت د حکومت څه باندې ۲.۳۷ میلیارده افغانۍ پوروړی دی

۲ مخ

### لس هغه تېروتنې چې سترگې کمزورې کوي

۵ مخ

## طالبان: افغان ژباړونکي دې د تېښتې پر ځای هېواد ته خدمت وکړي، د امنیت ډاډ ورکوو


وسله والو طالبانو د بهرنيو ځواکونو افغان کارکوونکو او ژباړونکو ته د امنيت ډاډ ورکړی دی. د طالبانو له لوري په خپره شوې اعلاميه کې راغلي، په وروستيو کې يو شمېر ژباړن اندېښنه لري چې گواکي د دوی ژوند ته به د طالبانو له لوري خطرونه جوړ شي او يا به په نښه شي، خو طالبانو ويلي، دوی دمگړۍ د امريکايي ځواکونو افغان ژباړنو ته د دښمن په سترگه نه گوري او دا چې له خپلو چارو يې لاس اخيستی، نو امنيت يې خوندي دی.

سرچينه کاږي چې افغان ژباړن کولی شي په مصئونه توگه په هېواد کې ژوند وکړي او خپلو خلکو ته خدمت وکړي. تر دې وړاندې افغان ژباړنو ادعا کړې وه چې د طالبانو له لوري خطرونه ورته متوجه دي او بايد له افغانستان و ايستل شي.

وروسته له هغې چې د امريکا ولسمشر جو بايډن اعلان وکړ، چې د روان کال د سپټمبر تر ۱۱مې به ټول امريکايي سرتېري له افغانستانه ووځي، د امريکا د کانگرېس ډېرو غړو له هغو افغانانو څخه د طالبانو د غچ اخيستنې په اړه اندېښنه څرگنده کړه، چې په وروستيو ۲۰ کلونو کې يې په افغانستان کې له امريکايي ځواکونو سره کار کړی او له هغه هېواد څخه يې د دغو افغانانو د ايستلو غوښتنه وکړه.


په ورته مهال په تېرو څو اونيو کې د بهرنيو ځواکونو ژباړونکو څو ځلې په کابل او بلخ کې لاريونونه وکړل او له بهرنيو ځواکونو او د هغوی له اړوند سفارتونو څخه يې وغوښتل، چې د نړيوالو ځواکونو د افغان ژباړونکو د ايستلو په برخه کې دې جدي اقدام وکړي.

## وکیلان: په هېواد کې د نامسوولو وسله‌والو خپلسرۍ او ظلمونه د جدي اندېښنې وړ دي



۵ مخ

## خلیلزاد: روند صلح بطی است و طرف‌ها به مسایل اصلی نپرداخته‌اند




زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان در گفت‌وگو با طلوع‌نیوز، گفته است که روند صلح دوحه بطی به پیش می‌رود و مذاکره کننده‌گان جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان به مسایل اصلی نپرداخته‌اند.

آقای خلیل‌زاد در این گفت‌وگو افزوده است که طالبان تاکنون به طرح امریکا برای آیندهٔ افغانستان پاسخی نداده‌اند و خودشان هم در این زمینه طرحی را شریک نساخته‌اند.

خلیل‌زاد می‌گوید که هیئت طالبان که به پاکستان رفته بود، اکنون به دوحه برگشته‌است و علاقه به پیشبرد مذاکرات دارد: «تعدادی از اعضای هیئت طالبان به‌شمول رهبر هیئت شیخ حکیم رفته بودند به کویته، صحبت‌ها داشتند، حالا پس آمدند و می‌گویند که علاقه داریم که زودتر مذاکره دوباره شروع شود و ممکن پلان خود را تقدیم کنند به هیئت جمهوریت.»

زلمی خلیل‌زاد در ترکیب یک هیئت امریکا دو روز پیش به کابل آمد و با مقام‌های حکومت افغانستان و شماری از سیاست‌گران دیدار کرد. سفر خلیل‌زاد درحالی صورت می‌گیرد که خروج سربازان خارجی هم‌چنان ادامه دارد و نبردها در افغانستان نیز شدت گرفته‌اند.

خلیل‌زاد می‌گوید که در اوضاع کنونی که سطح خشونت‌ها بلند است، خواست‌های طالبان دربارهٔ رهایی هفت‌هزار زندانی این گروه و نیز بیرون شدن نام‌های رهبران آنان از فهرست سیاه، عملی نیستند.

## تعمیر فروشی

یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

### د ولسواليو د سقوط تر شا څه دي؟

په داسې حال کې چې امريکايي ځواکونه له افغانستان څخه وځي، طالبان پرلهپسې د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې ولسوالۍ لاندې کوي. طالبانو په دې وروستيو کې ۱۵ ولسوالۍ نيولې دي چې د فارياب قيصار، د ارزګان ګيزاب او د غور شهرک ولسوالۍ يې پرون او ورمه ورځ ونيولې. د ځينو نورو ولسواليو د نيولو لپاره هم جګړه روانه ده او ښايي دا شمېره لوړه شي. حکومت وايي دا تکتيکي په شاتګ دی، خو نيول شوې ولسوالۍ لا هم د طالبانو په لاس کې دي. ډېرې ولسوالۍ له جګړې پرته نيول شوې، خو ځينې يې بيا له سختو جګړو او مرګ‌ژوبلې وروسته د طالبانو لاسته لوېدلې دي.

د طالبانو لخوا د ولسواليو پرلهپسې نيول څه ښيي او پايله به يې څه وي؟

په ډېری دغو ولسواليو کې کلي او بانډې له وړاندې له طالبانو سره دي او د ولسواليو مرکزونه له حکومت سره دي. د دغو ولسواليو په ځينو نورو سيمو کې هم نظامي مرکزونه شته، خو له ولسوالۍ او دغو مرکزونو سره د خلکو اړيکه پرې ده. نه خلک دغو مرکزونو ته ورځي او نه هم دا مرکزونه او ولسوالۍ د خلکو د امنيت او نورو چارو لپاره کوم کار کوي. دا مرکزونه يوازې خپل ځان ساتي او په سختۍ سره اکمالېږي. د دغو مرکزونو تمويل او تجهيز د حکومت لپاره سخت شوی دی. ډېری وخت تر محاصرې لاندې وي او پر وخت ورته تجهيزات نه رسيږي او ان د خوراک او څښاک لپاره هم څه نه لري. له همدې امله دا بې ګټې مرکزونه دي چې حکومت پرې يوازې لګښت کوي او نوره کومه ګټه نه لري. دا يوازې په شمېر کې راځي چې وويل شي طالبانو پر څومره ولسواليو او حکومت پر څومره ولسواليو کنټرول لري او تر دې زيات ارزښت نه لري.

په دې وروستيو کې همدا مرکزونه طالبانو د سيمه‌ييزو خلکو په منځګړيتوب نيولي او امنيتي ځواکونو ته ترې د خوندي وتلو لاره برابره شوې ده او يا هم له سختو جګړو او مرګ‌ژوبلې وروسته نيول شوې دي.

د ولسواليو دا سقوط ښيي چې حکومت نور نشي کولی چې هلته خپل ځواکونه وساتي او په دې ډول هغه ځايونه پرېږدي او تمرکز د ولايتونو پر مرکزونو او ښارونو کوي. طالبان هم په دې سره خپله جغرافيه پراخوي او ځان ته خوندي مرکزونه جوړوي. په دې سره کلي او ډېری ولسوالۍ طالبانو ته ور پاتې کېږي، خو ښارونه او د ولايتونو مرکزونه به له حکومت سره وي. که څه هم حکومت به هڅه وکړي چې ښارونه او د ولايتونو مرکزونه وساتي، خو طالبان به بيا هم بريدونو ته دوام ورکړي. په دې ډول د جګړې کرښې له ولسواليو څخه د ولايتونو مرکزونو او د ښارونو څنډو ته را رسيږي، چې دا چاره به د پراخو ځاني زيانونو تر څنګ، په ښارونو او د ولايتونو په مرکزونو کې د نورو ستونزو لامل هم شي.

طالبانو ته د ولسواليو پرېښودل او يا د طالبانو لخوا د ولسواليو نيول به نه يوازې ستونزې حل نه کړي، بلکې لا به يې زياتې کړي. جګړه به دوام وکړي او لا به خونړۍ شي. له همدې امله ښکېلو اړخونو ته پکار ده چې د جغرافيې د پراخولو او يا د ښارونو او ولايتونو د مرکزونو د ساتلو پر ځای يو له بل سره خبرو ته کېني، د سولې خبرې جدي مخ ته يوسي او د افغانستان ستونزه د جګړې او وژنو پر ځای په خبرو او سوله حل کړي. جګړه، نه په کلي او نه په ښکار کې د حل لاره ده او يوازې وژنې او د افغانانو درد او غم زياتوي.

# روښن مخابراتي شرکت د حکومت څه باندې ۲.۳۷ ميلیارده افغانۍ پوروړی دی

**پژواک- عبدالرقيب سايل**

سندونه ښيي چې د روښن خصوصي مخابراتي شرکت د مخابراتي چوپړ د لس سلنې محصول جريمې، فريکونسي دوه سلنه، اداري فيسونو او نورو مالياتي تادياتو او جريمو له امله، شاوخوا دوه ميلیارده او ۳۷۴ ميليونه افغانۍ پوروړی دی.

روښن شرکت وايي، د دغو پورونو سپارلو په تړاو يې د همايون قيومي په وخت کې له ماليې وزارت سره هوکړه کړې چې په پنځو کلونو کې به يې سپاري، خو دغه هوکړه د مخابراتي خدمتونو د تنظيم ادارې(اترا) رد کړې او شرکت د ولسمشر په غوښتنه د پورونو سپارلو بل نوی پلان جوړ کړی دی.

ماليې وزارت ويلي چې د پنځو کلونو اقساطو له لارې دې د روښن د باقياتو او تادياتو ورکړه کې قانوني اجراات وشي، خو د مخابراتي خدمتونو د تنظيم اداره (اترا) وايي چې ماليې وزارت نه بايد د اترا اړوندو پورونو لپاره د دوی له مشورې پرته مهالويش وټاکي، يوې ګډې کمېټې پرېکړه کړې چې دغه پورونه دې د مالي کال تر پايه په پنځو مياشتو کې دولت ته ورکړل شي؛ خو روښن شرکت وايي چې د پورونو د ورکړې نوی پلان يې حکومت ته سپارلی دی.

پژواک خبري اژانس د ماليې وزارت، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او اترا ادارې د ګډې کمېټې د پرېکړې يو راپور کاپي تر لاسه کړې، چې د روښن شرکت د پورونو په اړه د ۱۳۹۹ کال د کب په ۲۷مه ولسمشر محمد اشرف غني ته استول شوی دی.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت وياند نصرت الله نصرت ناصري د روانې غبرګولي په اتمه پژواک ته وويل، چې ياد مخابراتي شرکت، د مخابراتي خدمتونو د لس سلنې محصول نه ورکړې د جريمو له امله شاوخوا ۷۸۴ ميليونه افغانۍ پوروړی دی.

هغه زياته کړه چې مخابراتو وزارت دغه موضوع له ولسمشرۍ ماڼۍ سره شريکه کړې څو په تړاو يې پرېکړه وکړي.

د اترا ادارې وياند سعيد شينواري وويل چې روښن د دوه سلنه فريکونسي محصول، د مخابراتي خدمتونو د انکشاف صندوق يا(TDF) او اداري فيسونو له مدرکه شاوخوا يو ميليارد او څلور سوه ميليونه افغانۍ يوازې د اترا پوروړی دی.

خو د روښن د مخابراتي شرکت عملياتي مشر نورعلم حکيم يار پژواک ته وويل، له يادو پيسو يې ۱۸۶ ميليونه افغانۍ د غبرګولي په اتمه اترا ته ورکړې دي.

دی وايي، اترا د روښن شرکت د مخابراتي خدمتونو د پراختيا صندوق فيس (TDF) نږدې ۳۵۰ ميليونو افغانيو انوايسونه ځنډولي څو خپل پاتې پورونه وسپاري.

دغه راز سرچينې زياته کړې چې روښن د ماليې وزارت شاوخوا ۴۰۶ ميليونه افغانۍ پوروړی دی او شاوخوا ۳۲۰ ميليونه افغانۍ جريمه پرې وضعه شوې، چې ټولې ۷۲۶ ميليونه افغانۍ پور کېږي.

**روښن ولې پوروړی شوی؟**

د دغه شرکت عملياتي رييس د يادې پوښتنې په ځواب کې وايي چې په ۱۳۹۶ کال کابل کې د روښن پر مرکزي دفتر بريد وشو، چې له امله يې ۳۳ کارکوونکي ووژل او له سلو ډېر ټپيان شول. د شرکت کال سنټر له منځه ولاړ او روښن ته شاوخوا ۱۵ ميليونه امريکايي ډالره زيان واوښت.

دی وايي چې له دې سره د روښن اقتصادي وضعيت خراب شو او ويې نه شو کړای چې د حکومت ځينې ماليې په وخت ورکړي. دی زياتوي چې د ماليې په ورکولو کې د ځنډ له امله پر دغه شرکت ځينې جريمې هم راغلې او په ټوله کې دا چاره د دې لامل شوه، چې دغه شرکت له حکومت څخه پوروړی شي.

هغه زياته کړه، د دغو جريمو نه ښنلو او جبران نه ورکړې په صورت کې شرکت اړ شو چې د باقياتو تحصيل قانون د لسمې مادې له مخې د ۱۳۹۸ کال د کب په ۲۷مه له ماليې وزارت څخه غوښتنه وکړي، چې پورونه به په پنځو کلونو کې په مساوي قسطونو ورکوي.

د دغه قانون په لسمه ماده کې راغلي، کله چې د باقياتو ورکړه د معقولو دلايلو پر بنسټ د غير قسط ورکولو په ډول ستونزه ولري، نو پاتې پيسې په قسط ورکولی شي.

دغه قانون د ډاکټر نجيب الله د ولسمشرۍ پر مهال په ۱۳۵۸ لمريز کال کې د عدليې وزارت په رسمي جريده کې خپور شوی، خو افغانستان کې له مخابراتي پرمختګونو سره بيا هم په دغه قانون کې تعديل نه دی راغلی او نافذ دی.

په قسط د پورونو د ورکړې په اړه بېلابېلې پرېکړې:

د مکتوب کاپي ښيي چې د وخت ماليې وزير محمد همايون قيومي د روښن د يادې غوښتنې په اړه د قانوني کړنو امر کړی او وزارت د ۱۳۹۹ کال د کب په ۱۶مه د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو ادارې ته ليکلي، چې روښن شرکت د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو د دوو دوو ربعو څه باندې يو ميليارد، ۱۴ ميليونه او ۶۰۰ زره انتفاعي ماليې ورکړه د پنځو کلونو قسطونو ډول ته اوښتې چې شرکت لومړی او دويم قسط ۲۰۲ ميليونه افغانۍ د دولت خزانې ته سپارلې دي.

خو د ماليې وزارت، مخابراتو وزارت او اترا ادارې ګډې کمېټې په راپور کې راغلي: «د ۲۰۲۰ کال د اګست په شپږمه نېټه غونډه کې له روښن غوښتنه شوې چې د لس سلنې مخابراتي محصول پيسې، چې له شرکت سره د خلکو امانت پيسې دي، بايد له ځنډ پرته او باقيات بايد په پنځو مياشتو کې د مالي کال تر پايه وسپاري؛ خو متاسفانه شرکت دغه موده نه ده منلې او د جريمې ښننې او په پنځو کلونو کې د اصلي پورونو سپارلو غوښتنه يې کړې، خو پلاوي نه ده منلې.»

د حکيم يار په وينا، شرکت دغه ستونزه د مالي شخړو د حل کمېسيون سره شريکه کړې ده.

دغه کمېسيون د ۱۳۹۹ کال د تلې په ۲۸مه پرېکړه کړې چې د ماليې وزير د مخابراتي خدمتونو د پراختيا صندوق فيس(TDF) په ګډون د ټولو باقياتو قسطونو ډول ته اړولو واک لري او له همدې امله د وزير پورتنی حکم تر دويم حکم پورې نافذ دی؛ خو که چېرې اترا قناعت نه لري، نو ماليې وزارت ته په راجع کېدو دې حکم لغوه يا تعديل کړي.

دغه راز د ولسي جرګې د مالي او بوديجې، عمومي محاسباتو او بانکونو چارو کمېسيون هم پرېکړه کړې چې د روښن شرکت پورونه دې د قسطونو په شکل وسپارل شي.

خو د روښن اجرايوي مشر کريم خواجه، ولسمشر ته د ۱۳۹۹ کال د ليندۍ په ۲۷مه يوه ليک کې ليکلي، سره له دې چې د پورونو ورکړې په اړه له ماليې وزارت سره په پنځو کلونو موده کې هوکړې ته رسېدلي، خو بيا هم د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو ادارې په غوښتنه د لس سلنه مخابراتي محصول پيسو له جملې ۵۸۵ ميليونه افغانۍ دولت ته سپارلې دي.

د ياد ليک له مخې، د روښن شرکت مشرتابه پلاوي له ولسمشر سره د يادو ستونزو د شريکولو په موخه د ليدنې غوښتنه هم کړې، خو د اترا ادارې د معلوماتو له مخې چې ولسمشر دغه غوښتنه نه ده منلې.

دغه راز روښن شرکت د ماليې وزارت، اترا او مخابراتو وزارت ګډې کمېټې موندنو ته په اشارې د ۱۳۹۹ کال د ليندۍ په پنځمه په يوه راپور کې ويلي، چې کمېټې مبالغه کړې او په ځينو مواردو کې يې بې بنسټه ادعاوې کړې دي.

سند کې راغلي، د کمېټې په راپور کې د ۲۰۱۷ کال چاودنې په اړه چې روښن ته پکې شاوخوا ۱۵ ميليونه امريکايي ډالره زيان اوښتی؛ وضاحت نه دی شوی.

خو لويې څارنوالۍ په يوه مکتوب کې د مخابراتو وزارت ته د ۱۳۹۹ کال د چنګاښ په اتمه ليکلي، د دولتي پورونو تر لاسه کولو کمېسيون د ۱۳۹۹ کال د غبرګولي په ۲۲مه پرېکړه کړې، چې له روښن شبکې بايد ژر تر ژره د لس سلنه مخابراتي خدمتونو محصول دولت ته وسپارل شي.

دغه مکتوب کې راغلي چې د قرضې له وخته تر نن پورې بايد معلومه شي چې روښن څومره پيسې بهر ته لېږدولې، د پيسو نه ورکړې دليل هم بايد پيدا شي او کمپنۍ ته يوه توصيه هم مهمه ده څو خپل پورونه وسپاري.

خو روښن شرکت د لويې څارنوالۍ له اداري فساد سره د مبارزې مرستيال مقام ته د روان کال د غبرګولي په پنځمه په يوه ليک کې ليکلي، چې اترا ادارې له کوم دليل پرته د ماليې وزارت او دغه شرکت تر منځ د پنځو کلونو قسطونو هوکړه نه ده منلې.

روښن په دغه ليک کې ليکلي چې ولسمشر لارښوونه کړې څو روښن د پورونو سپارلو په تړاو يو نوی پلان جوړ کړي، له ګډې کمېټې سره يې دې شريک کړي او د اوو ورځو په موده کې دې ولسمشرۍ ماڼۍ ته واستول شي.

سرچينې ليکلي چې د شرکت ونډه‌والو د روان کال د غويي په نهمه له ګډې کمېټې سره په دريو مياشتو کې د اترا ادارې باقياتو سپارلو او د ۲۰۲۱ کال تر پايه د ماليې وزارت اصلي پور سپارلو په تړاو پلان شريک کړی، خو اترا تر اوسه له ولسمشرۍ ماڼۍ سره د شرکت نوي پلان شريکولو په اړه شرکت ته خبر نه دی ورکړی.

اترا وايي چې ولسمشر له ماليې وزارت او له دغې ادارې غوښتي چې د روښن د پورونو په اړه دې جدي اقدامات وکړي، ماليې او مخابراتو وزارتونو ته يې ويلي چې د لس سلنه محصول د سمې ټولونې لپاره دې طرحه ورکړي.

**د روښن مخابراتي شرکت لخوا ۲۵۰ مخابراتي سايټونه خاموشه شوي**

د اترا ادارې د معلوماتو له مخې، روښن شرکت د ۱۴۰۰ کال په سر کې شاوخوا ۲۵۰ مخابراتي سايټونه بند کړل، چې علت يې خپل قراردادي شرکت ته د لګښتونو نه ورکول ښودل شوي دي. له همدې امله اترا په دې اړه د ۱۳۹۹ کال د کب په ۱۹مه يوه پرېکړه وکړه، چې پژواک يې راپور د روان کال د وري په ۱۷مه خپور کړی دی.

د پرېکړې له مخې، د روښن مخابراتي شرکت د سرغړونو، ناسمو معلوماتو وړاندې کولو او پورونو نه ورکړې له امله د دغه شرکت د دريو لوړپوړو کارکوونکو (اجرايوي رييس، مالي رييس او عملياتي مرستيال) ګوښه کېدو پرېکړه شوې ده.

په پرېکړه کې راغلي: «دغه شرکت له ۱۳۷ زيات مخابراتي سايټونه، چې اترا تمويل کړي وو، بند کړي دي. د دغو سايټونو تر پوښښ لاندې ساحې ټول عام وګړي د مخابراتي خدمتونو له استفادې محروم کړي دي. د روښن دغې سرغړونې دولتي عوايد او خدمات زيانمن کړي، مشترکينو او په لسګونو قراردادي شرکتونو ته يې تاوان رسولی دی.»

د پرېکړې له مخې، که شرکت دغه پرېکړه ونه مني، نو ټولو دولتي او نادولتي ادارو ته به د شرکت د عدم اعتماد مکتوبونه ولېږل شي، د شرکت د مکتوبونو نه تسليمول او طی مراحل به يې ودرول شي، په ګمرکونو کې به د شرکت اړوند تجهيزات نه تشريح کېږي، شرکت ته به د طيفي منابعو ترځنګ هېڅ منابع نه ورکول کېږي، د شرکت ټول بانکي حسابونه تړل کېږي، د شرکت د جواز ځنډول يا لغوه کېږي او يا هم د شتمنۍ کنګل کولو پرېکړه به نيول کېږي

خو روښن شرکت د يادې پرېکړې له خپرولو يوه ورځ وروسته (د وري په ۱۸مه) د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره وويل، چې دغه شرکت د اترا ادارې تورونه په کلکه ردوي او په دې اړه يې د حقوقي مشورې لپاره ټول ښکېل لوري خبر کړي هم دي.

سرچينې ليکلي: «روښن د اترا ادارې بې اساسه تورونو ته چې د روښن شرکت او د دغه شرکت د کارکوونکو په اړه دي، خواشينې څرګنده کړې؛ ځکه بحثونه چې د دواړو اړخونو تر منځ د غلط فهميو د حل لپاره چې د اترا بورډ په پرېکړه کې ياد شوي، دوام لري.»

خو د روښن عملياتي رييس حکيميار وايي، له يادو ۱۳۷ سايټونو اوس ټول فعال دي، مګر هغه سايټونه چې د امنيتي ستونزو له کبله تړل شوي يا له ستونزو سره مخامخ شوي، په هغو کې روښن شرکت استثنا نه دی، نورې شبکې هم داسې سايټونه لري چې ستونزو ته يې بايد رسېدنه وشي.

# راپورونه: په پاکستان کې د دوو اورګاډو د ټکر په پېښه کې ۱۴۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د راپورونو له مخې، د پاکستان په سیند ایالت کې د دوو اورګاډو په ټکر کې ۴۰ کسان وژل شوي او تر ۱۰۰ ډېر ټپیان شوي دي.

د پاکستاني رسنیو د خبر له مخې، یاده پېښې ګوټکي سیمې ته نږدې شوې او د ډېریو ټپیانو روغتیایي وضعیت د اندېښنې وړ دی، چې ښایي د مړو شمېر نور هم زیات شي. په ورته مهال د پاکستان لومړي وزیر عمران خان هم پر خپل ټویټر پر دې پېښه خواشیني څرګنده کړې او ویلي یې دي: «د پټلۍ وزیر د پېښې ځای ته تللی، ټپیانو ته د طبي مرستې او د وژل شویو له کورنیو سره د مرستې باوري کولو لارښوونه ورته شوې ده.»

د راپورونو له مخې، ډېری ټپیان روغتونونو ته لېږدول شوي او په ډبو کې د پاتې کسانو د ایستلو هڅې هم پیل شوې دي. د سیند اعلی وزیر مراد علي شاه له ځایي چارواکو غوښتي چې په ډبو کې د ایسارو کسانو د ایستلو لپاره سملاسي لاس پر کار شي. نوموړي مساپرو ته د لنډمهالي استوګنځي او خوراک څښاک برابرولو غوښتنه هم کړې ده.

له دې پېښې وروسته پر دغه پټلۍ د اورګاډو تګ راتګ ځنډول شوی دی.

په ورته مهال دې پېښې په پاکستان کې سخت غبرګونونه راپارولي او د دغه هېواد ډېرو اوسېدونکو پر خواله رسنیو پر دې پېښې خواشیني څرګنده کړې او د چارواکو د استعفا او د پېښې د پلټنې غوښتنه یې کړې ده.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کلونو کې د پاکستان په رېل پټلۍ کې ورته پېښې ډېرې شوي چې سلګونو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې ده. په تېره مارچ میاشت کې هم له کراچۍ لاهور ته تلونکی اورګاډی له پټلۍ واوښت چې له امله یې ۳۰ کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.

تر دې پېښې هم وړاندې د تېر کال په فبروري میاشت کې هم د پاکستان په سیند ایالت کې له کراچۍ لاهور ته د تلونکي اورګاډي او بس په ټکر کې ۲۲ کسان ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول.

دغه راز د ۲۰۱۹ز کال د اکتوبر پر ۳۱مه د پنجاب په رحیمیار خان کې له کراچۍ څخه راولپنډۍ ته په تلونکي اورګاډي کې د اور لګېدو له کبله ۷۴ کسان ووژل شول.

# په پاکستان کې امریکایي اډې او افغان جګړه؛

## نیویارک ټایمز: پاکستان په مشروط ډول امریکا ته پوځي اډې ورکوي



له افغانستانه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته د امریکا متحده ایالتونه په دې لټه کې دي، چې د سیمې په هېوادونو کې پوځي اډې جوړې کړي او تر ټولو ډېر تمرکز یې هم پر پاکستان دی.

نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې راپور ورکړی چې امریکا له پاکستان څخه د پوځي اډو غوښتنه کړې او پاکستان هم په مشروط ډول د امریکا دا غوښتنه منلې ده. په راپور کې وړاندې راغلي، چې د سي ای اې مشر په همدې هدف څو ځله اسلام اباد ته پټ سفرونه کړي او د امریکا دفاع وزیر لوید اسټین هم له پاکستاني چارواکو سره په دې اړه خبرې کړې دي. په راپور کې وړاندې راغلي چې پاکستان په دې شرط امریکا ته د پوځي اډې ورکولو خبره منلې، چې هر هغه هدف چې د پاکستان له خاورې په افغانستان کې په نښه کېږي، باید لومړی له دوی سره پرې موافقه وشي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د ولسمشر جو بایډن له اعلان سره سم، ټاکل شوې چې د روان کال د سپټمبر میاشتې تر ۱۱مې نېټې به ټول امریکایي او نړیوال ځواکونه له افغانستانه ووځي، خو د نیویارک ټایمز په دغه راپور کې راغلي، چې امریکایي استخبارات هڅه کوي، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته په دغه هېواد کې له ترهګرۍ سره د ګډې مبارزې لپاره یوه تګلاره برابره کړي.

د سرچینې په خبره: « سي ای اې داسې لارې لټوي، چې پر مټ یې په دغه هېواد کې د استخباراتو، جنګ جګړې او له ترهګرۍ سره د مبارزې معلومات راټول کړي، دا په داسې حال کې چې د سي ای اې کارپوهانو د طالبانو ورځ تر بلې زیاتېدونکي خطر خبرداری ورکړی».

که څه هم امریکا ویلي چې له افغانستانه په بشپړ ډول تر وتلو وروسته به هم دوی په سیمه کې حضور ولري او د سیمې په نورو هېوادونو کې له پرتو اډو به په افغانستان کې امریکا ته د هر ډول متوجه ګواښ پر وړاندې اقدام کوي، خو د نیویارک ټایمز په راپور کې ډېر تمرکز پر پاکستان شوی دی. په راپور کې راغلي: «سي ای اې کلونه د پاکستان په لوېدیځو غرونو کې یوه اډه لرله او له هغه ځایه یې د بې‌پیلوټه الوتکې بریدونه کول، خو په ۲۰۱۱ز کال کې چې د دواړو هېوادونو اړیکې ترینګلې شوې، نو ورسره دا اډه هم وتړل شوه. اوس چې نو په هر ډول معامله کار کېږي، نو دا به د پاکستان حکومت ته خواشینوونکې حقیقت وي؛ ځکه چې له اوږدې مودې راهیسې له طالبانو ملاتړ کوي.»

د یاد راپور پر بنسټ، د امریکایي او پاکستاني چارواکو ترمنځ په خبرو کې پاکستاني لوري د اډو په بدل کې د بېلابېلو محدودیتونو غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې دا باید ورته په ډاګه شي، چې سي ای اې او د امریکا پوځ په افغانستان کې کومې موخې لري.

په راپور کې همدا راز راغلي چې امریکایي ډیپلوماټان په سیمه کې په پخوانیو شوروي جمهوریتونو کې د اډو جوړولو احتمال لټوي، خو د روسیې د ولسمشر ویلادیمیر پوتین مخالفت ته یې هم پام دی.

د نیویارک ټایمز د دغه راپور پر بنسټ، د افغانستان په هکله د سي ای اې او د امریکا د پوځ راپورونه خواشینوونکي بلل شوي، چې پکې د افغانستان په جنوب او ختیځ کې د طالبانو او نورو وسله‌والو ډلو لاسته‌راوړنې یادې شوې دي. دغه راز په راپورونو کې خبرداری ورکړل شوی، چې طالبان کولی شي په څو کلونو کې کابل ونیسي او بیا به پر لوېدیځ د برید لپاره خوندي ځای ورته جوړ وي.

په پاکستان کې د امریکایي اډو په تړاو نیویارک ټایمز داسې مهال دغه راپور خپروي، چې د روان ۲۰۲۱ز کال په اپریل میاشت کې د امریکا د سي ای اې مشر ویلیام بُرنز امریکایي سناتورانو ته ویل، هر څومره چې له افغانستانه د ټولو امریکایي ځواکونو د وتلو نېټه رانږدې کېږي، په افغانستان کې استخباراتي معلوماتو ته زموږ لاسرسی هم ور سره کمېږي.


## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◉ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه

**راتلونکې ته نظر**





دولت: غوږ نه دي، خو د سخت وضعیت له نرمولو سره مرسته کولی شي. حافظ سعید یوه جدي قضیه ده او زه فکر نه کوم، چې پاکستان دې هغه هند ته وسپاري.
کولی شو، چې د همکارۍ له لارې سره کینو او ووایو، چې ولې تر اوسه له ترهگرۍ او د یو بل خاورې ته له نفوذ کولو څخه گټه اخلو؟ ولې له دغه کار لاس نشو اخیستی یا یې ولې نشو درولی؟ یا یې تر یوې محدودې کچې وساتو.
هند او پاکستان په ۲۰۰۳ کال کې په اوربند هوکړې ته ورسېدل. ساهای او احسان الحق دواړو ادعا وکړه، چې دوو ناستو یې پر پوله تاوتریخوالی سوړ کړی دی.
په سازماني تدابیرو کې په دواړو پلازمېنو کې د مراکزو مشران پر خپلو پوستونو حاضر وي. د ISI افسر به نوي ډیلي کې لویې کمېشنرۍ ته معرفي شي او د (RAW) یا اطلاعاتي بیرو مشرانو سره به منظمې اړیکې ولري یا هم له اجیت دوال سره.
کله چې منظمې اړیکې موجودې وي، د ډېرو پرمختگونو امکان شته دی. نن خو آن د یو بل ویزه هم نشو ترلاسه کولی. څلور ځله پاکستان ته تللی یم او یو ځل هم داسې نه دي شوي، چې ماته دې ویزه نه وي راکړل شوې، خو اوس داسې احساسوم، چې ښایي ویزه ترلاسه نه کړم. جنرال صېب لېوالتیا درلوده، چې په ژمي کې ډیلي ته راشي او بلنه یې غوښته. ما له همکارانو سره پرې خبرې وکړې، خو هغوی وویل اوس مناسب وخت نه دی. دا د خواشینۍ او خپگان وړ وضعیت دی.
دوراني: موږ د دوی کس پېژنو او دوی زموږ، نو د اړیکو لپاره پرانیستي پوستونه معقول کار دی.
دولت: پرانیستي پوستونه به فضا پاکه کړي.
دوراني: رښتیا هم. د بېلگې په ډول، د حافظ سعید په قضیه کې کېدای شي اغېزناک پوهاوي ته ورسېږو او بیا اجازه ورکړو، چې محکمه دغه ستونزه حل کړي. داسې نورې قضیې هم شته، چې ډېرې پېچلې نه دي.
دولت: مسعود اظهر هم دی. هر ځل چې زموږ ترمنځ مذاکراتو کې د مسعود اظهر نوم اخیستل کېږي، احسان سمدستي وایي هغه مطلوب دی، خو د څار او تعقیب وړ نه دی. که رښتیا همداسې وي، نو مسعود اظهر داسې مخکښ اورپکی دی، چې په هند او پاکستان دواړو کې مطلوب شخص دی.
دا د همکاریو لپاره طبیعي قضیه جوړېدای شي. که پاکستان یې ونیسي او هند ته یې وهم نه سپاري دا کومه ستره ستونزه نه ده، ځکه شونې ده، چې له استخباراتي بیرو څخه څوک ورشي او خبرې ورسره وکړي.
دا کارونه هغه مهال شوني دي، چې د باور فضا رامنځته شوې وي.
دوراني: رښتیا هم، که هغه موږ دواړو ته مطلوب کس وي او په تړاو یې گډ لارښود وړاندې شي، نو دا به له دې سره هم مرسته وکړي، چې چین په ملگرو ملتونو کې د مسعود اظهر پر خلاف د گام اخیستل کېدو له ویټو څخه لاس واخلي او دا به نوره ستونزه پاتې نشي.
چین د پاکستان لپاره د مسعود اظهر پر خلاف اقدامات ویټو کوي، خو زه باوري یم، چې پر خپل دغه کار شرمنده دی.
دولت: زموږ ترمنځ د مذاکراتو او همکاریو نشتوالی ددې لامل گرځېدلی، چې کله پاکستانیان او چینایان سره کیني له هنده گیلې کوي، او دغه راز هند او امریکایان چې سره کینې، له پاکستان څخه شکایت کوي. موږ ټول فکر کوو، چې سره ملگري یوو او له متحدو ایالتونو سره خورا ښې اړیکې لرو. پاکستان فکر کوي، چې چین یې د ښې او بدې ورځې ملگری دی، خو په دې نه پوهېږو، چې زموږ خپلمنځي اړیکې کېدای شي، له دغو ټولو اړیکو ښې وي.
دوراني: هو. د خواشینۍ وړ ده، چې زموږ په څېر مدبر هېوادونه په ځینو مواردو کې د خپلمنځي اړیکو او مسایلو لپاره د مشر ورور له کارت څخه گټه اخلي.
دولت: که مناسبات ښه وي، نو دواړه هېوادونه به نور اړتیا ونه لري، چې د ښې او بدې ورځې د ملگرو موندلو لپاره دومره مذبوحانه(ناوړه) هڅې وکړي.
دوراني: دا کار د پالیسیو له بدلون پرته هم شونی دی. اړتیا نشته، چې څوک ووایي، کشمیر نور د لومړیتوب مسئله نه ده. هر څه وضعیت او مرتبه چې ورکوئ، ورکولی یې شئ.

**دوام لري...**

# پاتریک مودیانو

شفیق امیرزی



پاتریک مودیانو د ۱۹۴۵ کال د جون په دېرشمه د پاریس بولني بیلانکور نومې سیمه کې زیږېدلی دی. مودیانو د فرانسې په ادبیاتو کې وتلی نوم دی، چې اثار یې د ادبي برخې د ناقدانو له هرکلي او تحسین سره مخ شوي دي. هغه په ۱۹۸۷ز کال کې د گنکور جایزه او په ۱۹۷۲ز کال کې په ادبي برخه کې د فرانسې د اکاډمۍ جایزه اخیستې ده. هغه په پاریس کې وزیږېد، پلار یې آلبرت مودیانو په اصل کې ایټالیوی، په فرانسه کې هستوگن شوی او کشیش و. د پلار له طرفه یې کورنۍ تر یوناني مذهبي سترو کورنیو پورې رسېږي. مور یې بیا بلژیکۍ وه او په فلمونو کې یې رول ادا کاوه. د مودیانو مور پلار د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال سره معرفي شول، اړیکه یې ژوروه شوه او واده یې وکړ. دوی تر ډېره د یو بل څنگ ته پاتې نه شول او ژر بېرته سره بېل شول. د مودیانو پلار یهودي و، خو کله چې نازیانو پاریس ونیو، نو پر یهودیانو یې فشار زیات کړ.
پلار یې د نازیانو قوانین ونه منل، نو له همدې امله پوځ هغه یوې نظامي قرارگا ته ولېږه او بندي یې کړ. د نازیانو تعصبي چلند داسې و چې نیول شوي یهودیان باید ووژني، خو د مودیانو پلار د یوه ملگري په مرسته له دې ځایه خلاصېږي. ډېرې سختۍ تېروي. بیا د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال هغه په تور بازار کې په پلور او پېر بوخت وي، په گڼو جنجالونو او گډوډیو کې ښکېل وي، خو تر خپله مرگه یانې تر ۱۹۷۷ز کال پورې ان یو ځل هم له خپل زوی پاتریک مودیانو سره سمې خبرې نه کوي او کلونه له یو بل بېل وي. مودیانو یې له خپلې مور سره د سختې ژوند تېروي او دا هر څه یې پر شخصیت اغېز پرې باسي، چې په اثارو کې یې له ورایه ښکاري.
د ادبیاتو د نوبل جایزې گټونکی ژان پاتریک مودیانو د ۱۹۴۵ کال د جولای پر دېرشمه، پوره ۸۲ ورځې وروسته له هغې دنیا ته راغی چې غربي اتحاد نازي جرمني ته ماتې ورکړه. له دویمې نړیوالې جگړې وروسته اروپا، د مادي ورانیو تر څنگ، له یو ستر اخلاقي بحران سره هم لاس او گرېوان وه. د فرانسې انقلاب، د صنعتي انقلاب، د رڼاگانو د زانگو، د فلسفې او تمدن تر ډیوې لاندې، د نژاد او مذهب په نامه په میلیونونو انسانان د ځارویو په څېر ښکېل شول، ووژل شول او له بشري کرامته یې انکار وشو.
د ژان پاتریک پلار البرت مودیانو چې په څلور کلنۍ کې یتیم شوی و، دې ته اړشوی و چې پلرنی یهودي مذهب پرېږدي، عیسویت و مني او د وینزویلا کاراکاس ته کډه وکړي. وروسته بیا پاریس ته راغی او د لرغونو توکیو د پلورلو په کاروبار بوخت شو. د ۱۹۴۰ کال د اکټوبر د درېیمې قانون ټول هغه فرانسویان چې اصل یې یهودي وي، له ځینو کارونو منع کوي او البرت که څه هم د تاریخ جبر خپل اصل ته ور ټېل وهلی و، ځان د یهودي په توگه نه ثبتوي، پټ ژوند غوره کوي چې په ترځ کې یې د ناقانونه تجارت پر مټ یو څه شته هم پیدا کوي.
په ښوونځي کې یې ستر لیکوال او د «پاتا فیزیک» په نامه د یو ادبي مکتب فعال غړی رېموند کونو تر روزنې لاندې نیسي. پاتا فیزیک (د میتا فزیک مسخره شوې بڼه) په ادب کې نوې تجربې او له منل شویو اصولو څخه سرغړونه د اصل په توگه مني. ژان پاتریک مودیانو له بکلوریا پورته زده کړې نه کوي او لیکوالۍ ته مخه کوي.
د مودیانو سبک د ده د شخصي او کورني ژوند او د ده د عصر د سیاسي، ټولنیزو، اخلاقي او ادبي پېښو یو ډول مرکب معجون دی چې هم ساده گي لري او هم ژورتیا. هم نېغه خبره کوي او هم د طنز برخه پالي. د ده د لیکنو تر ټولو مهمه ځانگړنه دا ده چې د تېر مهال د تیارو اړخونو سپړلو ته ډېر پام کوي. د اکټوبر په نهمه د نوبل اکاډیمي مودیانو ته د جایزې د ورکړې دلیل (د حافظې د کارولو هغه هنر چې له انسانانو راخیستل کېدونکی برخلیک یادوي او پر مټ یې د [نازي] اشغال دنیا را ښکاره کوي) وباله. د نوبل کمیټې دا هم وویل چې د مودیانو دنیا یوه خیالي دنیا ده او کتابونه یې یو د بل د غږ انعکاس دی.
د پاتریک مودیانو وروستی لنډکی ناول (۱۶۰ مخه) چې د ۲۰۱۴ کال اکټوبر په دویمه له چاپه راووت، په دې کرښو پیلېږي: تقریباً هېڅ، لکه د یوه خزنده چیچل چې په لومړي سر کې درته ډېر سرسري ښکاري، یا لړترلړه تاسې ځان ته په ټیټ غږ، همداسې وایاست چې ځان پرې ډاډه کړئ. ټلیفون د مازیگر د څلورو بجو شاوخوا د ژان درگان په ځای کې، په هغه کوټه کې چې هغه ورته خپل دفتر وایه، زنگ وواهه. هغه د کوچ په تل کې له لمره خوندي، خوب وړی و او دا زنگونه چې هغه یې له ډېرې مودې راهیسې له اورېدو سره نه و روږدی، نه درېدل. ولې دومره ټینگار؟ کېدای شي چې هغه چا چې زنگ وهلی و، د ټلیفون قطع کول یې هېر شوي وي. اخر پورته شو، د کوټې هغې برخې ته ورغی چې کړکۍ ته نږدې وه او لمر په کې لگېده. د ناول داستان د همدغو ادرسونو له کتابچې پیلېږي او لیکوال درگان د دوو ځوانانو لخوا د داسې یوې هېرې ماجرا د سپړلو په چاره کې ښکېل کېږي چې ریښې یې بیا هم د تېر مهال په تیارو کې دي. د مودیانو د سبک رواني، لنډې، بې تکلفه جملې د کیسې له پرمختگ سره په هر حالت کې مرسته کوي.
مودیانو په دوه ویشت کلنۍ کې خپل لومړنی ناول چاپ کړ. هغه په خپل ژوند کې له ادبي لیکنو سره مینه لرله. د هغه د مور یوه ملگرې د فرانسې مشهوره لیکواله وه. یوه ورځ یې مور دی له دې لیکوالې سره (Queneau) معرفي کړ. دا معرفت د پاتریک لپاره خورا مهم و. دی له همدې ځایه بریالی شو چې له مشهورو ناشرانو سره اړیکه ټینگه کړي، لیکوالۍ ته تشویق شي او لا ډېر لیکوالان وپېژني. دی په ۲۲ کلنۍ کې بریالی شو چې د همدې مېرمنې په مرسته په فرانسوي ژبه (La Place de l'Étoile) ناول خپور کړي. دا یې د یوه یهودي ملگري په اړه لیکلی و، خاطرات و او رښتینې کیسه وه. پلار یې د دې کتاب تر خپرېدو وروسته پر مودیانو سخت غوسه و او غوښتل یې د هغه ټول کتابونه له بازار ټول کړي. له دې وروسته د دواړو تر منځ اړیکې ښې نه وې. یو ځل مودیانو له خپل پلار مالي کمک وغوښت، دی لا دوه ویشت کلن و، خو پلار یې غوښتنه رد کړه. بل ځل یې بیا د مور په هڅونه پلار ته ولېږل شو چې مالي مرسته ترې واخلي، خو د پلار ملگرې ښځې یې پولیسو ته زنگ وواهه او دی یې په گوتو ورکړ چې گواکې له دوی په زور پیسې وړي.
مودیانو جالب شخصیت لري، ډېر کم به هغه په رسنیو او عامه ځایونو کې ووینئ. داسې هم نه ده چې هغه دې شپه او ورځې لگیا وي ناولونه دې لیکي، بلکې تر څنگ یې نور ژوند هم کوي، خو د ناولونو په لیکلو کې له پوره دقت کار اخلي. هغه دقیق سړی دی، شهرت یې نه خوښېږي، هر ځای ناسته ولاړه خوند نه ورکوي، خو غواړي کار یې دقیق او د ډاډ وړ وي. هغه په خپلو ناولونو او داستانونو کې تر ډېره د هویت پر مسئله باندې راڅرخي، د انسان روان ته لاره کوي او د انسان رواني اړخونه راسپړي.
مودیانو په نوره نړۍ کې دومره مشهور نه و، ځکه په فرانسوي ژبه یې لیکل کول. هغه چې کله د ۲۰۱۴ کال د نوبل جایزې گټونکی شو، ډېرو ته د حیرانتیا وړ خبر و. په تېره انگلیسانو ته چې د دې سړي اثار یې لا لوستي نه دي، خو هغه د نوبل جایزه گټې. د دې بل لامل دا هم دی چې د شهرت مینه وال نه دی. مخکې مو هم وویل چې نه غواړي مشهور وي، له رسنیو سره خبرې وکړي، محفلونو کې وي او هسکې ټیټې واوري. دی یوازې هغه مهال راڅرگندېږي چې کتاب یې له چاپ راووځي او یا یې د ویشلو او خپرېدو لپاره محفل جوړ شوی وي.
یوه بله خبره چې د مودیانو په اثارو کې ده هغه یې د اثارو داخلي او معنوي پېچلتیا ده. په دې مانا چې یو خو هغه شعر ته نږدې نثر کاروي، په دې مانا چې یو ډول ځانگړی وزن لري. بل دا چې په اثارو کې یې تر ډېره هغه څه چې په ظاهره لولو یو بل داخلي او رواني بعد هم لري، چې هر لیکوال او ژباړن دا مسایل نه شي لېږدولی. هغه یو ځانگړی سبک لري چې همدې سبک دی ممتاز لیکوال کړی دی او د ښو لیکوالانو په کتار کې یې درولی دی. له همدې امله د نورو مشهورو لیکوالانو په پرتله د مودیانو ډېر کم اثار نورو ژبو ته ژباړل شوي دي، ځکه هغه یو ځانگړی سبک لري، یو بېل فکر لېږدوي، داستان یې څو اړخونه لري، رمزونه او رازونه پکې دي او په حقیقت کې یې یوه بله نړۍ خلق کړې ده. د دې لیکوال یوه بله ځانگړنه دا ده چې د فرهنگ، ادبیاتو، تاریخ او فرانسې په اړه پراخه مطالعه لري.
د مودیانو اثارو ته کتونکي وایي چې هغه تر ډېره په خپلو اثارو کې پر تېرو خاطراتو او یادونو تمرکز کړی دی. هغه د حافظې د کارولو ماهر هم بولي، ځکه تر ډېره یې هغه یادونه او خاطرات ناول کړي دي چې په خپل ژوند کې ورسره مخ شوی دی. د دې تر څنگ یې د فرانسوي هویت د ساتلو او پاللو لپاره هم اثار ځانگړی ارزښت لري، هغه ته تر ډېره د هویت او حافظې لیکوال هم وایي. دی له ابهام او پېچلتیا سره مینه لري. په ناولونو کې یې د جملاتو تر شاټ څو معناوې پرتې دي، د مودیانو په خبره، له دې مسئلې خوند اخلي او په حقیقت کې دغه ډول لیکل اسانه کار هم نه دی. هغه په اثارو کې عالي ادبیات کاروي، هیجاني جملات راوړي او مخاطب په ډېرو مواردو کې حیرانوي. دی د ژوند پر روانو واقعیتونو ډېر تمرکز کوي. په خیالاتو کې یې هغه مسایل تحلیلوي چې ورځني ژوند کې ورسره مخ شوی دی او باید حل ورته پیدا شي.
مودیانو ته د معاصر وخت مارشل پروست وایي. د نوبل اکاډمۍ چې کله ده ته د نوبل ادبیاتو جایزه ورکوله، نو په لیکلي متن کې یې ویلي وو، موږ د اوس زمانې پروست ته جایزه ورکوو. مودیانو د مارشل پروست په څېر د انساني ژوند بنسټیزو مسایلو ته اشاره کړې ده، د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره یې نظریات وړاندې کړي دي، د تېرې زمانې د برم او انساني عظمت د ژوندي کولو لپاره هڅه کوي، دی وایي، هڅه کوي چې لنډ او ساده ناولونه ولیکي، مخاطبین خوشاله وساتي، اړیکې ورسره ولري او نوی فکر خپل کړي. له همدې امله د نوبل بنسټ ستایلی دی او جایزه یې ورکړې ده. د نوبل بنسټ هغه ته په ۲۰۱۴ ز کال کې په بشري ژوند کې د مهمو او اغېزناکو ناولونو د لیکلو له امله د نوبل جایزه او ۱،۱ میلیونه ډالر ورکړل.
مودیانو لا هم لیکل کوي، د ښه ژوند لپاره قلم چلوي، د انساني فکر لپاره لیکل کوي او هڅه یې دا ده چې بشر خپل اصلي هویت وپالي، جگړې پرېږدي، بشر ته درناوی وکړي او خپلې ستونزې حل کړي. هغه ادبیاتو ته د مینې او د ژوند د برخې په سترگه گوري، لیکل کوي ارام لیکل کوي، بیا بیا یې گوري او په ډېرې سختۍ د دې زړه ښه کوي چې یو کتاب چاپ ته واستوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸.۳۰ |
| € | ۹۴.۵۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱.۸۰ |
| £ | ۱۰۸.۸۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# لس هغه تېروتنې چې سترګې کمزورې کوي

ژباړه: عایشه حیدري

سترګې د بدن له هغو غړو شمېرل کېږي، چې ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري او ډېره وړه بې غوري کولای شي سترګې کمزورې او یا هم ړندې کړي.

د څېړنو پر بنسټ، د بدن هر غړی چې په سمه توګه پاملرنه ورته ونه شي، زیان ویني او د دې لپاره چې د بدن غړي ښه او روغ پاتې شي باید سمه او وړ ساتنه یې و شي.

تاسو به غواړئ پوه شئ کومې کړنې ستاسې سترګې کمزورې کوي؟

اندېښنه مه کوئ! په نننۍ لیکنه کې به موږ تاسو ته لس هغه ټکي در په ګوته کړو چې ستاسو سترګو ته زیان رسوي او د دې لامل کېږي چې ستاسو سترګې کمزورې شي، نو اړینه ده چې د سترګو د روغتیاساتنې لپاره له دغو زیان اړوونکو کړنو څخه ځان وساتئ.

**۱ – د عینکو نه کارول**

هغه کسان چې د لمر وړانګو په مقابل کې له عینکو څخه ګټه نه اخلي، سترګې یې ډېرې ژر کمزورې کېږي، نو د دې لپاره چې د لمر وړانګې ستاسو سترګې ونه سوځوي، تل له عینکو څخه ګټه واخلئ.

د لمر او ماورای بنفش (Ultraviolet) وړانګې د دې لامل کېږي چې د سترګو پرې شوې برخه یا شبکیه (Retinal) پرده زیانمنه شي او د سترګو د نم (اوبو یا اوښکو) د ډېروالي لامل کېږي. همدارنګه د لمر وړانګې نور ډېر ناوړه زیانونه هم لري او د پروفیسور Vinay Aakalu په وینا چې د لمر وړانګې د پوستکي د سرطان لامل هم کېږي.

د سکي (Ski) لوبې پر مهال او یا هم د لمر وړانګو لاندې اوسېدل، د سترګو قرنیه برخه سوځوي، چې په پای کې د انسان سترګې له درد او کمزورۍ سره مخ کېږي او سترګو څخه بې ځایه اوښکې بهېږي.

**۲ – د سترګو له څاڅکو (قطرو) څخه ډېره ګټه‌اخیستل**

د سترګو ځینې څاڅکي/ قطرې یا په عامه اصطلاح د سترګو (چکک) په لنډمهال کې د سترګو سور رنګ له منځه وړي، خو په اوږدمهال کې سترګې خرابوي او له څو ساعتونو وروسته سترګې ښه کار نه کوي. دا څاڅکي د سترګو د رګونو د بندښت لامل کېږي او سترګې له پخوا هم لا ډېرې سرې کوي، چې دا کار د سترګو په کمزورۍ کې ډېره ونډه لري او تاسو باید د سترګو له دغو څاڅکو څخه ډېره ګټه وانخلئ.

**۳ – د سترګو وچوالی**

نږدې پنځه میلیونه تر ۵۰ کلنۍ لوړ عمر لرونکي امریکایان د سترګو له وچوالي څخه رنځېږي، چې له دې ډلې تر دریو میلیونو زیاتې ښځې او تر ۱،۵ میلیونو یې نارینه دي. د سترګو وچوالی د سترګو د نم د کمښت او یا هم د اوښکو له کموالي څخه را منځته کېږي چې باید ژر تر ژره یې علاج وشي او د درملنې لپاره یې له عادي څاڅکو کار وانخیستل شي، د سترګو غوړولو قطرې چې د سترګو لپاره ساتونکي مواد پکې شته او ورځ کې څو ځلې کارول کېږي، سترګو ته زیان رسوي.

د سترګو د وچوالي لپاره باید له مصنوي اوښکو څخه ګټه واخیستل شي، که څه هم هغه مواد چې مصنوي اوښکې جوړوي ډېره ګرانه بیه لري، خو د یادونې وړ ده چې په ورځ کې څلور ځلې کارونه یې ډېره ګټوره ثابتېږي. اوښکې جوړونکې قطرې په یخچالونو کې ساتل کېږي، د دغو څاڅکو یخوالی سترګو ته ښه حس ورکوي او د انسان سترګې خارښت نه کوي، کوم کسان چې له څاڅکو څخه ګټه اخلي بویه چې په خپل کور کې د رطوبت جوړوونکې دستګاه ولري.

**۴ – د اوږدمهال لپاره کمپیوټر ته کېناستل**

د سترګو رپ مرسته کوي چې د سترګو نم او اوبه ډېرې او تازه شي؛ خو کله چې انسان د کمپیوټر پردې یا مانیټور ته ځیر شي، تر عادي حالت لږ سترګې رپوي، دا په داسې حال کې ده چې انسان باید په یوه دقیقه کې له ۱۲ تر ۱۵ ځله سترګې ورپوي، نو ښکاره ده چې کله انسان د کمپیوټر پردې ته ځیر شي، د سترګو رپ یې کمېږي، په دغه حال کې د سترګو اوبه تبخیر کېږي او کله چې سترګې ککړې شي، د سوځېدو او د اوښکو توېېدو لامل کېږي.

که یو انسان د ډېرې مودې لپاره یو متن په کمپیوټر او موبایل کې ولولي، سترګې یې زیان ویني او د سترګو نږدې لید ته یې هم ډېر زیان رسوي.

**۵ – نه پاملرنه او له لېنز څخه ناوړه ګټه اخیستنه**

لېنز معمولاً د سترګو ښکلا او رنګ بدلولو لپاره کارول کېږي، خو که چېرې سمه ګټه ورڅخه وانخیستل شي، سترګو ته ډېر زیان رسوي او د سترګو طبیعي ښایست هم له منځه وړي.

که غواړئ چې لېنز مو سترګو ته زیان ونه رسوي، لاندې ټکو ته پام وکړئ:

لېنز باید له خپلو ځانګړو اوبو سره ووینځل شي ؛

هېڅکله لېنز په عادي اوبو مه وینځئ؛

په حوض، حمام، د سیندونو پر غاړه او بل هر چېرې چې اوبه وي، له خپلو سترګو څخه لېنز وباسئ؛

ډېری ډاکتران دا توصیه کوي چې د یو ځل لپاره لېنز وکاروئ او بیا یې مه کاروئ؛

د دې لپاره چې سترګې په بشپړ ډول اکسجن تر لاسه کړي د خوب پر مهال له سترګو لېنز لرې کړئ؛

کله چې مو لېنز اخیسته د سترګو له ډاکټر سره مشوره وکړئ، پرته له دغه کاره لېنز مه کاروئ؛

د لېنز کارول د دې لامل کېږي چې سترګې میکروب ونیسي او د سترګو میکروب ورو ورو ډېر شي، ځکه د لېنز د ایستلو پر مهال د دې امکان شته چې د سترګو پردې زخمي شي، چې دا کار هم د میکروب ډېرېدو لامل ګرځي.

**٦ – د تاریخ تېرو سینګار توکو کارول یا سینګار سره ویده کېدل**

ښځې او نجونې باید وروسته له دریو میاشتو خپل سینګار توکي ونه کاروي او تر دې وړاندې چې ویدې شي باید خپل سینګار ووینځي، ځکه ټوله شپه په سترګو کې د سینګار توکو پاتې کېدل، سترګو ته زیان اړوي.

**۷ – له ساتونکو عینکو څخه ګټه نه اخیستل**

ځینې خلک ساتونکې عینکې یوازې د لامبو پر مهال کاروي، په داسې حال کې چې ډاکټران وایي چې له ساتونکو عینکو څخه د ترکاڼۍ، معمارۍ او ان د چمن په رېبلو کې باید ګټه واخلو، چې خس او خاورې زموږ سترګو ته ننوځي نه شي او سترګې زیان ونه ویني.

**۸ – سګرېټ څښل**

د سګرېټو له څښلو ډډه وکړئ. سګرېټ څښل د سترګو اوبو او د سترګو د شبکیه پردې د زیانمنېدو لامل کېږي. د سګرېټو څښل د دې لامل کېږي چې بدن ته په سمه توګه اکسجن ونه رسېږي، چې سترګو ته د اکسجن نه رسېدل د سترګو د کمزوري کېدو لامل کېږي.

**۹ – د سترګو نه معاینه کول**

وخت پر وخت د معاینې لپاره د سترګو ډاکټر ته ورشئ، خصوصاً کله چې د شکر ناروغي او یا هم د وینو لوړ فشار لرئ. کله چې د شکر ناروغي کنټرول نه شي د سترګو د کمزورۍ کچه لوړېږي او ان تر دې چې د ړندېدو لامل کېږي. نو د یادو ناروغیو، ناروغان باید هرو مرو د سترګو ډاکټر ته ورشي او خپلې سترګې معاینه کړي.

**۱۰ – زیان نښو ته نه پاملرنه**

د سترګو جال جال لید، درد، نه لیدل، د سترګو سره کېدل او سوځېدل په خپل سر نه جوړېږي، که چېرې له دغو نښو سره مخ شوئ، اورمرو د سترګو ډاکتر ته ورشئ. د بېلګې په ډول، که یو څوک یو څه ویني، خو وروسته یې په سمه توګه نشي لیدلای، باید پوه شي چې د سترګو شبکیه ته یې زیان رسېدلی. که چېرې دغه حالت عادي ونیسی، سترګو ته به مو دومره زیان ورسېږي چې د جراحۍ حالت ته به ورسېږي. هېر مو نشي چې له لېنز سره ویده کېدل د سترګو د ړندېدو لامل کېږي.

# وکیلان: په هېواد کې د نامسوولو وسله‌والو خپلسرۍ او ظلمونه د جدي اندېښنې وړ دي



د ولسي جرګې غړي او عام افغانان په پرله پسې توګه په هېواد کې د نامسووله وسله‌والو له فعالیتونو شکایت کوي او زیاتوي چې دغه کسان په ډېریو ولایتونو کې عام خلک ځوروي، په ناقانونه توګه ترې پیسې اخلي او دغه راز د قومونو ترمنځ بې اتفاقۍ ته لمن وهي.

په ولسي جرګې کې د تخار د خلکو استازي وایي چې په دغه ولایت کې د قوماندان فتح په نوم د غیر مسوولو وسله والو یوه قوماندان په دې وروستیو کې په سنڅۍ او شینواري کلیو کې له لسو ډېر ملکي وګړي وژلي او لسګونه نور یې له ځانه سره نامعلوم لور ته بیولي دي.

وکیلان دغه راز وایي چې په دې وروستیو کې د نا امنیو له ډېرېدو سره هممهاله حکومت د هېواد په شمالي او ځینو نورو ولایتونو کې پر هغو محلي قوماندانانو د وسلو وېش لړۍ پیل کړې، چې په تېرو څو لسیزو جګړو کې یې عام خلک وژلي، ځورولي او په ډېرو نورو جرمونو هم تورن دي.

په ورته مهال عام خلک هم دې چارې اندېښمن کړي او وایي چې افغانان په تېر کې له ملېشو بدې خاطرې لري او که حکومت د دغو خپلسرو وسله والو او مېلشو مخه ونه نیسي، وضعیت به نور هم ترینګلی شي او د خلکو او حکومت ترمنځ به واټن ډېر شي.

بلخوا د پکتیکا د وړممۍ ولسوالۍ یو شمېر خلک په کابل کې د اعتراض په توګه راټول شوي وو او په یاد ولایت کې یې د سرحدي ځواکونو د یوه قوماندان بدین له ناوړه چلنده شکایت کاوه. اعتراض کوونکي وایي چې یاد قوماندان د طالب په نوم عام خلک له ځانه سره وړي او بیا یې له کوم جرم پرته وژني.

خو د امنیتي ادارو مسوولین بیا وایي چې دوی په هېواد کې نامسووله وسله والو ته د فعالیت اجازه نه ورکوي او که عام خلک د یادو کسانو د جرمونو په اړه له دوی سره خپل اسناد شریک کړي، پر وړاندې به یې جدي اقدام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د هېواد په ډېریو ولایتونو کې د جګړو د ډېرېدو ترڅنګ د نامسوولو او خپلسرو وسله والو فعالیتونو خلک اندېښمن کړي او له حکومت څخه یې د مخنیوي غوښتنه کوي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



WAYGAL PRINTING CO.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



سه شنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د جون ۸مه | ۷۲۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | ٤٠ | ٤٥ | ۳۹ | ٤٧ | ٤٠ |
| ۲۰ | ۲٤ | ۲۸ | ۲۸ | ۲۸ | ۲٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښين ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۴:۵۴ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:۵۰





راپورونه: په پاکستان کې د دوو اورګاډو د ټکر په پېښه کې ۱۴۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې


۵



## تازه شمېرې: په نړۍ د کرونا د مړو شمېر درې میلیونه او ۷۴۶زره او ۹۸٦ کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو لـه مخـې، پـه نـړۍ کـې پـر کرونـا ویـروس د اختـه کسـانو شـمېر ۱۷۴ میلیونه او ۱۸۱ زره او ٦۹۲ کسـانو تـه رسـېدلی دی. دغـه راز د یـاد ویـروس لـه کبله تـر دې مهاله درې میلیونه او ۷۴٦ زره او ۹۸٦ کسـان مـړه شـوي او لـه ۱۵۷ میلیونـو ډېـر تـرې ببرتـه رغېـدلي دي.

د یـادو شـمېرو لـه مخـې، د امریکا متحـده ایالتونـه د دغـه ویـروس د ډېرو مثبتـو پېښـو او قربانیانـو لـه اړخـه د نـړۍ تـر ټولـو مخکـښ هېـواد دی. د راپورونـو پـر بنسـټ، پـه امریـکا کـې د دغـه ویـروس مثبتـې پېښـې ۳۴میلیونـه او ۲۱۱زره او ۲۲۸ تـه رسـېدلي او ٦۱۲ زره او ۳۷۸ نـور امریکایـان تـرې مـړه شـوي دي.

دغـه راز هنـد د ۲۸ میلیونـه او ۹۷۴ زره او ۱۵۲ مثبتـو پېښـو لـه اړخـه د نـړۍ دویـم، برازیـل د ۱٦ میلیونـه او ۹۴۷ زره او ٦۲ مثبتـو پېښـو پـه درلـودو سره د نـړۍ درېیـم، فرانسـه د پنځـه میلیونـه او ۷۱۲ زره او ۷۵۳ مثبتـو پېښـو له اړخـه د نـړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونـه او ۲۸۷ زره او ۹۸۰ مثبتـو پېښـو په درلـودو سره د نـړۍ پنځم هغـه هېـواد دی، چې د کرونـا ویـروس ډېرې پېښـې پکې ثبـت شـوې دي.

روسـیه، برېټانیـا، ایټالیـا، ارجنټاین او جرمنـي بیـا پـه ترتیـب سره شـپږم، اووم، اتـم، نهـم او لسـم هغه هېوادونـه دي چـې د کرونـا له کبله ډېـر ځپـل شـوي دي.



## هالډینونګ: روسیه په چټکۍ سره په جرمني کې د استخباراتي فعالیتونو د زیاتبدو هڅه کوي



د جرمني د کورنیو استخباراتو رییس توماس هالډینونګ ویلي چې روسیه تر هغه بریده په جرمني کې استخباراتي فعالیتونه کوي، چې د سړې جګړې پر مهال یې کول.

نوموړي ګواښ کړی، چې د روسیې دا فعالیتونه د پام وړ مخ پر زیاتېدو دي. هالډینونګ زیاته کړې چې روسیه د جرمني ټولو برخو ته پېچلې استخباراتي لېوالتیالري.

هغه ویلي، روسیه یو ګڼ شمېر جاسوسان لري، چې هڅه کوي له پرېکړه کوونکو خلکو سره اړیکې ټینګې کړي. د جرمني د کورنیو استخباراتو رییس په برلین کې په ۲۰۱۹ز کال کې د یوه ګرجستاني سړي د وژل کېدو پېښې ته په اشارې ویلي چې په هغې پېښې کې هم روسان ښکېل وو.

دا په داسې حال کې ده چې روسیه تېر ۱۵ کاله د اروپا په ځینو نورو هېوادونو کې هم په ورته هدفي وژنو کې ښکېله بلل شوې ده. جرمني چې د وګړو او اقتصاد له پلوه د اروپایي ټولنې تر ټولو لوی غړی دی، د روسیې پر وړاندې د دې ټولنې په اکثرو تګلارو اغېز لري.

په یاد هېواد کې را روان سپټمبر میاشت ټاکنې ترسره کېږي، چې په پایله کې به یې تر ۱٦ کلونو وروسته د اوسنۍ لومړۍ وزیرې انګېلا مېرکل پر ځای بل څوک د نوموړې ځایناستی وټاکل شي.


## اعلان داوطلبي غرض تطبيق دو پروژه جداگانه ذيل

۱- پروژه اول – پروژه توزيع مواد غذايي سال ۱۴۴۲ هـ مطابق ۲۰۲۱م .

۲- پروژه دوم – پروژه قرباني سال ۱۴۴۲ هـ مطابق ۲۰۲۱م .

سازمان (MWL) ميخواهد از طريق شركت ها وموسسات ذيربط كه با ارگان هاي ذيربط دولتي ثبت وراجستر باشد جواز فعاليت آن مدار اعتبار وتصديق تصفيه حسابات مالي خود را از وزارت ماليه در دست داشته باشد پروژه هاي شماره (۱) و شماره (۲) فوق را تطبيق نمايد، بناء شركت ها وموسسات يكه داراي مواصفات فوق باشند مي توانند در داوطلبي شركت كنند وشرطنامه را از اين دفتر اخذ ونرخ خود را إلى تاريخ ۲۰۲۱/۰٦/۱۴م از طريق ادرسهاي ذيل به اين دفتر تقديم نمايند، تاديه ماليه به وزارت ماليه ازپروژه فوق الذكر به دوش شركت برنده مي باشد ضم فوتوكاپي جواز همراي نرخ لازمي است ( اماكن توزيع- در ولايت افغانستان مطابق هدايت مسؤولين خواهد بود).

**آدرس:** شش درك، خانه (۷)، نزديك دفتر سابق دى ايج ايل، سرك عمومى دفتر سازمان مذكور
**تليفون:** ۰۰۹۳۷۹۱۲۲۰۲۳۲
**ايميل:** iiro_kabul_4u@hotmail.com
**پوست بكس:** (ص – ب – ۳۱۸۱ وزارت مخابرات كابل افغانستان)

## کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې دری فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank